# PRESS INFORMATION

THE EUROPEAN UNION DELEGATION TO AFGHANISTAN
THE EUROPEAN UNION SPECIAL REPRESENTATIVE IN AFGHANISTAN

## د مدني ټولنې سره د کار لپاره د اروپايي ټولنې د 2015-2017 کال د تګلارې د بياکتنې په موخه د سلا ورکونې پروسه پيل شوه

***کابل، 18 جون 2017***

اروپايي ټولنه يوه خوځنده، پراخ بنسټه او پياوړې مدني ټولنې ته د يو دموکراتيک نظام مهم عنصر په توګه ارزښت ورکوي او د مدني ټولنې او دولت ترمنځ رغنده همکاريو باندې ټينګار کوي. مدني ټولنه د حکومتوالۍ، حساب ورکونې او ټولنيز پراختيا په برخه کې مهم رول لري او د هر اړخيز پرمختګ په لاره کې بنه همکار دي. د 2002 کال نه را په دې خواه د مدني ټولنې بنسټونه په ډيرو برخو کې د اروپايي ټولنې د پروژو لکه روغتيا، ټولنيز خونديتوب، کرنه او د مهاجرينو څخه د ملاتړ د پلۍ کولو په برخه کې د بنه همکارانو په توګه پاتې شوي دي .

د 2015 – 2017 کلونو لپاره د مدني ټولنې سره د کار لپاره د اروپايي ټولنې د تګلارې د اعلانيدو نه وروسته اروپايي ټولنه د يوه ټول شموله مدني ټولنې پر پياوړتيا باندې تمرکز وکړ ترڅو دغه بنسټونه د ټولنو او دولتي چارواکو سره د پاليسي جوړولو، اقتصادي او ټولنيز مسايلو باندې د کار او د ډيالوګ، حساب ورکونې او روڼتيا رامنځ ته کولو په موخه د کار وړتيا ولري.

د تمويل کولو د يوه نوي ميکانيزم رامنځ ته کول لکه د فرعي قراردادونو له لارې پيسې ورکول اروپايي ټولنې لپاره دا زمينه برابره کړه ترڅو په ټيټه کچه د مدني ټولنو بنسټونو لپاره مرسته ورسوي. برسيره پر دې افغانستان لپاره د بروکسل کنفرانس نه په کته اخيستو، اروپايي ټولنه د افغانستان مدني ټولنو سره يوه ګډه اعلاميه جوړه کړه. د دغه کنفرانس په څنده کې د مدني ټولنې او مرستو کونکو هيوادونو ترمنځ يوه بيله ناسته چې عالي بحثونو ته زمينه برابره کړه، بنه لاس ته راوړنه وه. اروپايي ټولنه په پام کې لري چې دغه ګډه لاسته راوړنه د 2017 کال په مني کې د دولت – مدني ټولنې ترمنځ د يوه ډيالوګ له لارې تعقيب کړي. د دغه ډيالوګ د آمادګۍ په توګه اروپايي ټولنه د مدني ټولنې لپاره په خپله تګلاره له سره کتنه کوي. د دغه بياکتنې موخه داده چې د دغه تګلارې اغيزمنتوب، لاس ته راوړنې وارزول شي او د 2018 – 2020 کلونو لپاره نوي اهداف وټاکل شي.

په همدې موخه موږ ټولو مدني ټولنو، نړيوالو غير دولتي سازمانونو، دولتي همکارانو او نورو اړوندو بنسټونو ته بلنه ورکوو ترڅو د سلا ورکونې په دغه پروسه کې چې د روان کال په اوړي کې ترسره کيږي ګډون وکړي. که غواړۍ په دغه بهير کې ګډون وکړۍ د [Delegation-Afghanistan-Civil-Society-Info@eeas.europa.eu](mailto:Delegation-Afghanistan-Civil-Society-Info@eeas.europa.eu) ته "Civil Society Roadmap Consultations" تر عنوان لاندې ايميل واستوۍ. په ايميل کې خپل د بنسټ نوم، خپل دريځ او د اړيکې شميره هم وليکۍ.

لاډيرو معلوماتو لپاره:


د اروپايي ټولنې پلاوی
د رسنيو سلاکار
عبدالله يادګاري
ټليفوني شميره: +93 (0) 700 173 548
برېښناليک: abdullah.yadgare@eeas.europa.eu

پيترو ايينا
د اروپايي ټولنې پلاوې
د اړيکې، رسنو مدير
ټليفوني شميره: +93 (0) 729 909 657
برېښناليک : pietro.ienna@eeas.europa.eu